نجیب منلی ۲۰۱۸/۰۶/۰۹

# کږې لارې

د بشر په تاریخ کې د داسې پېښو شمېر ډېر کم دی چې یو وړوکی، مقطعي اعتراض دې په یو ملي انقلاب او حتی نړیوال بدلون واوړي. د څو ورځو په ترځ کې د نقیب الله مسود د شهادت د پوښتني موضوع د پښتون ژغورني پر یوه پراخ غورځنګ بدلېدل چې ورانګې یې د نړی ګوټ ګوټ ته ورسېدلې د دغسې کم وقوع حوادثو په شمېر کې راځي.

که د پښتون ژغورني غورځنګ دغه چټکه او بریالی وده له نېږدې وڅېرو تر شا یې درې عمده عوامل لیدلای شو:

- ۱ – د ښکېلاکګر انګرېز له سیاستونو سره سم، پاکستان د خپل پیدایښ له ورځې تر دې دمه خپل خیر د ګاونډي

په شر کې لیدلی او په پاکستان کې یو څو چودهریانو خپله بقا د پاکستان د نورو قومونو له تباهی سره تړلې ده. پاکستان له پیدا کېدو سره سم د هغو کوچنیو خپلواکو ریاستونو په خوړلو پیل وکړ چې انګرېز د یو لوی واحد ملي قدرت د ایجاد په مخ کې د خنډونو په ډول پرې ایښي وو. کلات یې تر ستوني تېر کړ، دیر یې تر پښو لاندې کړ، سوات باندې یې خېټه واچوله...

په هغو ځایونو کې یې چې خوړې داني نه شوې راټولولای، د وحشت انتها یې ښکاره کړه. د پاکستان تر ایجاد ایله دوه لسیزې وروسته یې و غوښتل بنګال د عسکرو تر بوټانو لاندې مات کړي خو د بنګال خلکو په مېړانه له خپلو حقونو دفاع وکړه، د پاکستان په اومو تارونو تړل شوی جوړښت یې مات کړ او بنګه دېش ازاد شو.

په پښتونخوا او بلوچستان کې یې هم په زرګونو انسانان د مرګ کومي ته ورکړل.

د دوه قطبي نړی د جنګ په ډګر کې پاکستان خپل اسونه چاغ کړل، ان تر دې چې د افغانستان پاکې خاورې ته یې هم په خیرن نظر وکتل. فکر یې وکړ چې د بنګال ماته به د کابل په سوبه جبران کړي.

پاکستان خپل دغه هدف ته د رسېدو په نیت له یوې خوا د افغانستان حکومتونو پسې خپل لېوه ګوري را وشکارل او له بل لوري یې هم په پښتونخوا او هم په بلوچستان کې په زرګونو قومي مشران ووژل او هیله یې درلوده چې د شملو په پرېوتلو به د دې ولسونو تندي هم تر ځمکې ورسوي. د افغانستان د حکومت تر لاس لاندې جغرافیه کې یې هم قومي مشران ووژل، وځپل، ورک یې کړل او د هغو سترو ستو پر ځای یې یو څو بې سره او بې پښو، د باروتو په



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

بوی مست لیوه ګوري د افغانستان د پښتنو پر سرنوشت مسلط کړل. د دې دوو وسلو تر څنګ پاکستان خپله استخباراتي وسله هم وکاروله او پوره نیمه پېړۍ یې دا زهر په اذهانو کې و پاشل چې ګوندې سل کاله بېلتون اوس د کرښې دواړه خوا پراته اولسونه سره بېل کړي دي.

د بنګال تر ماتې وروسته، شاوخوا نیمه پېړۍ چودهریانو فکر وکړ چې خپلې شمالي څنډې یې نورې له پښو غورځولې دي.

د نقیب الله مسود شهادت هغه سپرغۍ وه چې د پاکستان په لاس پاشل شوو باروتو ته یې اور ورته کړ او د پښتون ژغورنې غورځنګ ودې او غوړېدا ته یې لار جوړه کړه.

■ ۲- د وروستۍ زریزې په اوږدو کې د پښتنو ملي حرکتونه یا د ملایانو او روحانیونو تر مشرۍ لاندې تنظیمېدل

او یا د قبیلوي مشرانو، خانانو او سردارانو تر بیرغ لاندې.

دا خبره ډېره عامه ده چې پښتانه همېشه د جنګ میدان ګټي او د سولې میدان بایلي. علت یې هم ډېر روښانه دی. د جنګ په میدان کې هغه خلک توره وهي چې عزت، وطن، عقیده او پښتونولي یې ستر ارزښتونه دي. د سولې په میدان کې بیا لومړۍ خبره هغه چا کوله چې عزت، وطن، عقیده او پښتونولي یې قدرت ته رسېدلو له پاره تجارتي متاع ګڼله.

تر یوې زریزې زیاتو تاریخي وقایعو او د دښمنانو تبلیغاتو پښتانه په دې خبره قانع کړي وو چې پښتون مشر نه لري، پښتون اتفاق نه شي کولای، پښتون ته ښېرا شوې چې تل به یې دی ګټي او نور به یې څټي.

د شلمې پېړۍ د پای دوه لسیزي او د یویشتمې پېړۍ د پیل دوه لسیزې هغه تاریخي فرصت و چې پښتانه د «د ښکلي پښتونخوا د غرو له سرونو» راکښېوتل، دنیا کې د علم زده کولو او د روزي ګټلو په تلاش خواره شول، خلک یې هم و پېژندل او ځان یې هم و پېژانده.

نن په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره د پښتون ژغورنې غورځنګ هغه سیاسي – ټولنیز تشکل دی چې مشري یې د لوستو، پوهنتوني، د دنیا له حاله خبرو ځوانانو په لاس کې ده. دوی د مبارزې په بڼې کې هم پاخه شوي او د نړۍ سیاستونو سره هم اشنا دي. ځکه خو ویلای شو چې په تېر زر کلن تاریخ کې د لومړي ځل له پاره پښتنو خپل برخلیک په خپلو لاسو کې نیولی دی او دا ځل به هم د مبارزې میدان ګټي او هم به د سولې میدان کې بریالي کېږي.

■ ۳ – له انګرېز سره د ملي مبارزې په ډګر کې ګاندي او باچا خان د عدم تشدد روښانوونکی څراغ په لاس کې،

د عمل میدان ته راکښېوتل.

یو حدس دا هم کېدای شي (خو دا خبره به په علمي دلایلو ثابتېدل غواړي) چې ګاندي په ځان کې دا متره نه لیده چې خواره واره هنوان دې تر یوې قوماندې لاندې د انګرېز له ستر قدرت سره د تودې جګړې میدان ته راوباسي او فکر به یې کړی وي چې که دغه په سلګونو ملیونه خوار او زار ولسونه بې وسلې د انګرېز په مخ کې ودروي، انګرېز

به د دومره زورور انساني سېلاو په مخ کې يښي ټينګې نه کړای شي. په مقابل کې پاچا خان د عدم تشدد دوه ستر مکتبونه چې يو يې الهي منشاء درلوده او بل يې ولسي، عملاً په مخ کې درلودل. الهي مکتب د اسلام دين او د محمد، خيرالبشر، سيرت و. د دې مکتب د تهداب خښته دغه سپېڅلی آيت و چې «الصلح خير». ولسي مکتب بيا پښتونواله او د پښتونولۍ اصلي ارزښتونه (جرګه، د مشرانو درناوی، پټکی او پړونی، ننواتي، تيره، وېش، دفتر...) وو چې د تاريخ په اوږدو کې يې د حکومتي دستګاه په نه شتون کې په دغو غرونو او درو کې څو زره کاله د سولې، يو بل منلو، ګډ ژوند، د بل عقايدو او شخصيت ته درناوي اصلونه ژوندي وساتل، هم يې د ښکېلاکګرو مخه ډب کړه او هم يې د بېلابېلو قومونو، اتنيکي ګروپونو، په لسګونو ژبو د خبرو کوونکو ولسونو په ګډ کار ستر ستر مدنيتونه و پنځول. هغه څه چې ګاندي ته يو ضرورت و، د باچاخان په لاس کې يو فرصت و.

له بده مرغه حالات داسې راغلل چې پاچاخان و نه شو کړای د خپل ولس له روحيې سره سم يو سياسي تشکل را منځ ته کړي (که سپينه يې ووايو زموږ روحاني مشرانو او خانداني سردارانو ملي ګټې له خپلو شخصي منافعو قربان کړې).

د بشري تمدن په داسې پړاو کې چې د «نړيوال» کېدلو تر نامه لاندې د ابن خلدون له خوا را پېژندل شوي د ترلتوب (همبستګي، عصبيت، Solidarity) اصول و رنګېدل، د نيا د يو موهوم يوقطبي نظام تر چتر لاندې راغله، پښتانه يو وار بيا دا فرصت لري چې خپل ملي، پښتني ارزښتونه چې د پښتونولۍ تر عنوان لاندې ياد شوي، او «عدم تشدد» يې د بنسټ تيره ده، د خپل نجات له پاره او د دې له پاره چې دا نړۍ د انسانانو له پاره د ژوند مناسب ځای شي دا ځل د خپلې ارادې پر مټ او د خپلو باورونو په تطبيقولو يو نوی، ژغورونکی غورځنګ د برياليتوب پر لار بوځي.

د وروستيو ورځو پېښو (د واني وقايعو) او د پښتون ژغورني غورځنګ د لنډکي تاريخ په اوږدو کې د نامسوولو، احساساتي ځوانانو ناوړو کړنو دا ثابته کړه چې د دښمن استخبارات هم د پښتون ژغورني غورځنګ د قوت ټکی پېژني چې پر عدم تشدد او د افغانانو پر ملي يووالي د ددې غورځنګ بې قيد و شرطه تکيه ده. دښمن هڅه کوي چې د ثبات او پرمختګ، د پياوړتيا او خوزښت دغه دوه پايې له پښتون ژغورني غورځنګ څخه واخلي هم يې د تفرقې پر لور روان کړي (لکه په کابل کې چې يو څو شرمېدلو عناصرو دا کار وکړ) او هم يې د تشدد لوري ته و هڅوي (لکه په وانه کې يې چې خپل نيت ښکاره کړ).

د پښتون ژغورني غورځنګ مشران، ملګري، لارويان او مينه وال بايد د تاريخ په دې حساس پړاو کې دا ټکی هېر نه کړي چې که موږ د تشدد خوا ته ولاړو يو وار بيا په خپلو لاسو د دښمن بري ته لار جوړوو. رحمان بابا دا خبره تر ما ډېره ښه کړې:

که ښيښه د نام و ننګ دې شي تر څنګه

د هر چا په کجروۍ به خپل ځيګر خورې

د تشدد پلوه او افتراق اچوونکو کجرويو مخنيوی د نن ورځې شعار دی.